# [پنځمه معلوماتپاڼه] د خبراوي چیلنونه: لارښووني او ملاحظې

سرچینه: د سره صلیب نړیوال فدراسیون، د سره صلیب نړیواله کمیټه (۲۰۱۶) د ټولنیز مشارکت او حساب ورکوني لارښود کتاب

https://media.ifrc.org/ifrc/document/tool-8-communication-channels/

## موخه

دا معلوماتپاڼه له تاسو سره مرسته کوي چې د هر چینل د کار د څرنګوالي او د هغې د ګټو او زیانونو د څېړلو له لارې د خپلې اړتیا سره سم د مفاهمې تر ټولو غوره چینل غوره کړئ.

## د خبراوي چینلونو ته لنډه کتنه




د مفاهمې د چینلونو مشرح جدول

**هغه ټکي چې د خپراوي د چینل د غوره کولو پر مهال باید په پام کې ونیول شي:**

- **باید د معلوماتو د ارزونې پر بنسټ وي**
  - ټولنه کوم چینلونه کاروي
  - فرهنګي او د سواد کچې ملاحظې
  - د ملي ټولنې ظرفیت څومره دی – خلک، وخت او بودیجه
- **د پروګرام د اړتیاوو پر بنسټ وي**
  - یو طرفه یا دوه طرفه خپراوی
  - اقدامات بدل کړئ یا حساب ورکونه پیاوړي کړئ
  - د خلکو جغرافیایي خپراوی چې بایدرسېدنه ورته وشي
  - د فعالیتونو د پر مخ بېولو لپاره څومره وخت لرئ؟
- **دولت او سازمانونو کوم چینلونه کاروي؟**
- **د چینل غوره کول به پر بې پرېوالي او بې طرفۍ څرنګه اغېزه وکړي؟**

| | چینل | ګټې | زیانونه | د لاندې واردو د ترسره کولو لپاره غوره دی |
|---|---|---|---|---|
| ساده تکنالوژي ← | د ټولنې بسیج (دروازه په دروازه لیدنه) | • دوه طرفه خبراوی<br>• مخامخ لیدنه چې خلک ترجیح ورکوي<br>• هڅوونکی/ د قناعت وړ<br>• خبرو اترو ته لار هواروي | • ګران او وخت نیوونکی دی<br>• ډېر کار او کارکوونکو ته اړتیا لري<br>• محدود لاسرسی<br>• خلکو ته پر فزیکي لاسرسي ولاړ دی<br>• بسیج کوونکی باید په سمه توګه روزل شوی وي ترڅو په سمه توګه له خلکو سره اړیکه ونیسي | • د چلندونو د بدلولو لپاره<br>• د پروګرام د معلوماتو شریکول<br>• د فیډبک (نظرونو) راټولول |
| | ټولنیزې غونډې | • دوه طرفه خبراوی<br>• مخامخ لیدنه چې خلک ترجیح ورکوي<br>• په ورته وخت کې له ټولنې سره معلومات شریکوي (د آواز مخه نیسي)<br>• د ټولنیز بحث ملاتړ کوي<br>• ارزان دی | • محدود لاسرسی<br>• ښایي د ټولنې ځینې غړي ترې پاتې شي، لکه سپین ږیري، معلولین یا ښځې<br>• که چېرې تر بحث لاندې مسئلې جنجالي وي، د غوسې/نااُمیدی خطر شته<br>• پر فزیکي لاسرسي متکي دی<br>• د مفاهمې ښو مهارتونو ته اړتیا لري | • د پروګرام د معلوماتو شریکول<br>• د فیډبک (نظرونو) راټولول<br>• د عدالت غوښتنې (وکالت) د اړتیاوو او مسئلو په اړه بحث کول |
| | معلوماتي غرفې | • دوه طرفه خبراوی<br>• مخامخ لیدنه د خلکو د خوښې وړ ارتباط دی<br>• حساسې مسئلې په محرمانه توګه سمبالېږي<br>• په ټاکل شوو وختونو/ځایونو کې وړاندې کېدای شي<br>• ارزانه دی | • محدود لاسرسی<br>• پر فزیکي لاسرسي متکي دی<br>• د مفاهمې ښو مهارتونو ته اړتیا لري | • فیډبک (نظرونو) او شکایتونو اداره کول<br>• د پروګرام د معلوماتو شریکول<br>• د عدالت غوښتنې د اړتیاوو او مسئلې په اړه د معلوماتو راټولول |
| | د خبرتیاوو تختې | • د یوې ځانګړې ټولنې د اړوند معلوماتو د شریکولو لپاره مناسب دی<br>• د وړاندیزونو د صندوق اضافه کول د دوه طرفه مفاهمې ملاتړ کوي<br>• ارزانه دی | • محدود جغرافیایي پوښښ<br>• د معلوماتو د اړوندتوب ساتلو لپاره ډېرو کارکوونکو ته اړتیا لري<br>• د هغو ټولنو لپاره خورا مناسب دی چېرې چې اکثریت لوست کولای شي، یوازې د تصویرونو له لارې مفاهمه کول ستونزمن دي | • د پروګرام د معلوماتو شریکول<br>• د چلند د بدلون پوسترونه<br>• د لیکل شوو نظرونو راټولول |

منځنۍ ټکنالوژي ↓

| | | | |
|---|---|---|---|
| **پوسټرونه** | • د یوې ځانګړې ټولنې د اړوندو معلوماتو د شریکولو لپاره مناسب دی<br>• د معلوماتو د تشریح کولو لپاره له تصویرونو او متن څخه کار اخلي اخیستلای شي.<br>• ډېرو خلکو ته رسېږي | • یوازې یو طرفه مفاهمه ده<br>• پر فزیکي لاسرسي متکي دی<br>• په ټیټ سواد لرونکو ټولنو کې کم اغېز لري<br>• د چاپ لګښتونه یې ګران دي<br>• پر چلند محدود اغېز لري | • د پروګرام د معلوماتو شریکول<br>• د چلند د بدلون معلومات<br>• معلومات د مرستې په توګه |
| **بېلبورډونه** | • د چلند د بدلون پیغامونه خپروي<br>• ډېرو خلکو ته رسېږي | • یوازې یو طرفه خبراوی دی<br>• ګران دی<br>• معمولا لږ څه سواد ته اړتیا لري | • د چلند له بدلون څخه خبرول<br>• معلومات د مرستې په توګه |
| **لاسپیکرونه او پر غږیزو وسیلو سمبال نقلیه وسایط/غږیز پیغامونه** | • د لنډو او ساده معلوماتو لپاره ښه دي<br>• په متراکمو سیمو کې په یوه وخت کې ډېروخلکو ته رسېږي<br>• کېدای شي ساکن یا ګرځنده (متحرک) وي(موټر یا شخص)<br>• د مغو وګړو لپاره ښه دی چې رسنیو لکه راډیو یا تلویزیون ته لاسرسی نه لري یا یې د سواد کچه ټیټه ده<br>• کېدی شي ارزانه وي | • یوازې یو طرفه خبراوی دی<br>• پر فزیکي لاسرسي متکی دی<br>• یوازې د ساده او واضح پیغامونو لپاره کارېدای شي | • د چلند له بدلون څخه خبرول<br>• د پروګرام د معلوماتو شریکول<br>• معلومات د مرستې په توګه |
| **پردېوالونو نقاشۍ** | • د ساده پیغامونو لپاره مناسب دی – چې په مکرر ډول بدلون نه مومي (لکه د لاسونو مینځل)<br>• که چېرې په سمه توګه ترسره شي، خلک راښکېلولای شي<br>• د ښو چلندونو تلپاتي/دایمي یادونه او د پوسټرونو/خبرتیا پاڼو په پرتله ډېر دوام لري | • یوازې یو طرفه خبراوی دی<br>• محدود شمېر خلکو ته رسېږي<br>• ښه نقاش ته اړتیا لري چې پیدا کول یې سخت او ګران دي | • د چلند له بدلون څخه خبر ورکول |
| **تلېفوني اړیکې** | • د خبراوي دوه طرفه چینل دی<br>• ساده سیستم ارزانه او آسانه وي<br>• حساسې مسئلې یې له لارې په محرم او خصوصي توګه سمبال کېږي<br>• د آوازو په ګوته کولو او د پوښتنو د ځوابولو لپاره مناسب دی | • خلک باید تلېفون ولري<br>• د شکایتونو د تحلیل او ځواب ویلو لپاره باید یو سیستم موجود وي ترڅو د تلېفون ملاتړ وکړي، چې دا لږ کار ته اړتیا لري. | • د پروګرام د معلوماتو شریکول<br>• د فیډبک (نظرونو) راټولول<br>• د شکایتونو د اورېدو لپاره<br>• د عدالت غوښتنې د احتمالي اړتیاوو د پېژندلو لپاره |
| **ورځپاڼې** | • لوړې جغرافیایي سیمې تر پوښښ لاندې راوستلای شي | • د خبراوي یو طرفه چینل دی | • د چلند د بدلون لپاره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | • متن او انځورونه خپروي<br>• امکان لري خپله ورځپاڼه جوړه کړئ<br>• ورته ورځپاڼه ډېر خلک تر پوښښ لاندې راولي | • معمولا یوازې لوستي وګړي تر پوښښ لاندې راولي<br>• پر ورځپاڼو د خبرتیاوو خپرول ګران دي<br>• د خپلې ورځپاڼې جوړول ګران، وخت نیوونکي او ننګوونکي کار دی (د کوچنیو سیمو لپاره مناسب دی) | • د پروګرام د مهمو معلوماتو لپاره<br>• د عدالت غوښتنې د پیغامونو لپاره<br>• معلومات د مرستې په توګه |
| | تیاتر او ډرامه | • د خبراوې دوه طرفه چینل دی<br>• د تفریح له لارې خلک په پېچلو او حساسو مسئلو کې راښکېلولای شي | • ښه روزل شوي ټیم ته اړتیا لري ترڅو په ښه توګه یې ترسره کړي<br>• وخت نیوونکي او ګران دي<br>• محدودې جغرافیې ته رسېږي | • د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره |
| لوړه (پرمختللې) تکنالوژي ← | ګرځنده/سیاره سینما | • د خبراوې دوه طرفه چینل دی<br>• د ویډیو څخه کار اخیستل پېچلي معلومات ساده کوي.<br>• د تفریح له لارې خلک په پېچلو او حساسو مسئلو کې راښکېلولای شي | • ښه روزل شوي ټیم ته اړتیا لري ترڅو په ښه توګه یې ترسره کړي<br>• ستاسو غوښتنې/اړتیا ته په پام، وسایل یې ښایي ګران وي<br>• د وسایلو او ټیم لېږدول ستونزمن دي – لږ تر لږه یوې نقلیه وسیلې ته اړتیا ده | • د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره |
| | راډیویي خبرتیاوې | • کولای شي د ټولنې د بېلابېلو برخو لوی شمېر خلکو ته وسېږي<br>• کولای شي هغه خلک راښکېل کړي چې د مغوی سره مخامخ لیدل ستونزمن دي<br>• لوست (سواد) ته اړتیا نه لري<br>• راډیوګانې ارزانه دي<br>• راډیو د خبراوې تر ټولو نامتو بڼه ده<br>• د خبرتیاوو تولید کړندی، آسانه او ارزانه دی | • د خبراوې یو طرفه چینل دی<br>• خپرول یې ګران دي<br>• د خبرتیاوو تولید د ثبتولو او اېډېټ کولو مهارتونو ته اړتیا لري – که څه هم دا کار یو مسلکي شرکت د تاسو لپاره ترسره کوي | • د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره<br>• د پروګرام د مهمو معلوماتو شریکولو لپاره<br>• د عدالت غوښتنې د پیغانونو لپاره<br>• معلومات د مرستې په توګه |
| | د خبرو اترو راډیویي خپروني | • د اړیکو دوه طرفه چینل دی<br>• کولای شي د ټولنې د بېلابېلو برخو لوی شمېر خلکو ته وسېږي<br>• کولای شي هغه خلک راښکېل کړي چې د مغوی سره مخامخ لیدل ستونزمن دي<br>• لوست (سواد) ته اړتیا نه لري<br>• راډیوګانې ارزانه دي | • خپرول یې ګران (قیمته) دي<br>• منظم راډیویي بحث ډېر وخت او سرچینو ته اړتیا لري<br>• ښه روزل شوي ټیم ته اړتیا لري | • د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره<br>• د پروګرام د مهمو معلوماتو شریکولو لپاره<br>• د فیډبک (نظرونو) راټولولو لپاره<br>• د عدالت غوښتنې د پیغانونو لپاره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | • راډیو د مفاهیمو او پوهاوي تر ټولو نامتو بڼه ده | | |
| | راډیویي ډرامې | • کولای شي د ټولنې د بیلابیلو برخو لوی شمېر خلکو ته ورسېږي<br>• کولای شي هغه خلک راښکېل کړي چې د مغزي سره مخامخ لیدل ستونزمن دي<br>• لوسټ (سواد) ته اړتیا نه لري<br>• راډیوګانې ارزانه دي<br>• راډیو د مفاهیمو تر ټولو نامتو بڼه ده<br>• د تفریح له لارې خلک په پیچلو او حساسو مسئلو کې راښکېلولای شي | • د اړیکې یو طرفه چینل دی<br>• خېرول یې ګران (قیمته) دي<br>• ډرامې وخت نیوونکې او تولید او خپرول یې ګران دي | • د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره |
| | تلویزیوني خبرتیاوې | • لوسټ (سواد) ته اړتیا نه لري<br>• ګڼ شمېر خلکو ته رسېږي<br>• کولای شي هغه خلک راښکېل کړي چې د مغزي سره مخامخ لیدل ستونزمن دي<br>• تلویزیون پر باورونو او چلندونو مهم اغېز لري | • د اړیکې یو طرفه چینل دی<br>• خېرول یې ګران (قیمته) دي<br>• خبرتیاوې وخت نیوونکې او ګرانې دي<br>• په ځینو هېوادونو کې د تلویزیون مالکیت د ټولنې بډایه قشر ته محدود دی | • د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره<br>• د عدالت غوښتنې د پیغامونو لپاره<br>• معلومات د مرستې په توګه (که چېرې د خبرتیا ژر تولید کېدای شي) |
| | تلویزیوني خپرونې | • ګڼ شمېر خلکو ته رسېږي<br>• کولای شي هغه خلک راښکېل کړي چې د مغزي سره مخامخ لیدل ستونزمن دي<br>• لوسټ (سواد) ته اړتیا نه لري<br>• تلویزیون پر باورونو او چلندونو مهم اغېز لري | • خېرول یې ګران (قیمته) دي<br>• تلویزیوني خپرونې ډېر وخت او سرچینو ته اړتیا لري<br>• په ځینو هېوادونو کې د تلویزیون مالکیت د ټولنې بډایه قشر ته محدود دی | • د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره<br>• د فیډبک (نظرونو) راټولولو لپاره<br>• د عدالت غوښتنې د پیغامونو لپاره<br>• معلومات د مرستې په توګه |
| | ټولنیزې رسنۍ (فیسبوک، ټویټر، انسټاګرام او داسې نور) | • دوه طرفه ارتباط<br>• ګڼ شمېر خلکو ته رسېږي<br>• ډېر مشارکتي دی او له بحث څخه ملاتړ کوي<br>• اداره کول یې آسانه او ارزانه دي<br>• متن، تصویرونه، ویډیو او غږ خپرولای شي | • خلک باید انټرنېټ ته لاسرسی ولري<br>• د معلوماتو د تازه (اپډېټ) ساتلو او تبصرو ته د ځواب ویلو له امله ښايي وخت نیوونکی وي<br>• ډېری د انټرنېټ کاروونکي د ټولنې د لوستي او بډایه برخې څخه وي<br>• د انټرنېټ ته په ښاري سیمو کې لاسرسی ډېر دی نو کېدای شي کلیوالي اوسېدونکي ترې پاتې شي | • معلومات د مرستې په توګه<br>• د فیډبک (نظرونو) راټولولو لپاره<br>• د چلند له بدلون څخه د خبر ورکولو لپاره |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | • د هغو معلوماتو کنټرول ستونزمن دی چې په عامه توګه شریکېږي. | |
| | **لنډ پیغامونه (اس ام اس)** | • ډېر ژر او په مستقیمه توګه ګڼ شمېر خلکو ته رسېږي<br>• هغو خلکو ته رسېږي چې د هغوی سره مخامخ لیدل ستونزمن دي<br>• د موبایل کاروونکو شمېر په تېزۍ سره مخ پر زیاتېدو دی<br>• دوه طرفه ارتباط دی<br>• ارزانه او آسانه دی (د ټلیفون د کمپنۍ په ملاتړ یا د بولک (Bulk) سیستم کارول ( په یوه ځل ډېرو خلکو ته د پیغامونو استول ) | • معمولا یوازې یو طرفه خبراوی دی<br>• د شبکې پوښښ او ګرځنده ټلیفون ته اړتیا لري<br>• لوست (سواد) ته اړتیا لري<br>• د لنډ پیغام (اس ام اس) په شبکه کې کېدای شي د ناورینونو یا د شخړې له امله اخلال شي.<br>• پیغامونه باید ډېر لنډ او ساده وي (هر پیغام باید ۱۶۰ حرفه)<br>• ښایي د ټلیفوني کمپنۍ سره خبرو اترو ته اړتیا وي یا د مخه د ټلیفون شمېرو نوملړ چمتو وي. | • معلومات د مرستې په توګه<br>• د پروګرام د مهمو معلوماتو د شریکولو لپاره<br>• د فیډبک (نظرونو) راټولولو لپاره |

## د اړیکو د تاکل شوو لارو چارو د کارولو لارښود

لاندې د اړیکو د چینلونو ځینې بېلګې ذکر شوي چې مخکې د سره صلیب د ملي ټولنې (NS) له خوا کارول کېدې (معمولا د مفاهېم د دوديزو میتودونو لکه مخامخ لیدنې د بشپړولو لپاره). د پیغامونو ټول ډولونه لومړی باید د سم درک او پوهاوي د ډاډمنولو لپاره د ملي ټولنې د داوطلبانو له خوا وارزول شي او د ملي ټولنې او اړوندو وزارتونو له خوا تائید شي (د بېلګې په توګه روغتیایي پیغامونه باید د عامې روغتیا د وزارت له پیغامونو سره مطابقت ولري).

## د لنډ لیکلي پیغام (اس ام اس) له لارې پیغام ورکول

لنډی لیکلي پیغامونه په چټکه توګه له ګڼ شمېر خلکو سره د مهمو پیغامونو د شریکولو لپاره کارول کېږي. د بېلګې په توګه:

- د حفظ الصحې د ترویج کوونکو د کار د ملاتړ لپاره پیغامونه لېږل
- د نوو تسهیلاتو یا د د کمیټو یا ټولنیزو غونډو په ګډون د مهمو فعالیتونو د وخت او موقعیت اعلانول
- د طبیعي پېښو پر وړاندې د چمتووالي په اړه د مشورو او د هوا د بېړنیو او ژر پېښېدونکو پېښو په اړه خبرداری ورکول
- د سره صلیب، سرې میاشتې (RCRC) د مهمو کاري ارزښتونو په اړه خبرول، د بېلګې په توګه د دې پیغام ورکول چې ټولې مرستې وړیا دي.
- دغه راز لنډ لیکلي پیغامونه د خلکو د نظرونو د اوربدو (لکه د ذینفعانو او د ټولنې د غړو د رضایت په اړه د پوښتنې لېږل) او د ګډون د هڅولو لپاره (لکه د کمیټې د غړو څخه غوښتنه کول چې هره ورځ له ۵ کلونو څخه په کم عمره ماشومانو کې د نس ناستې د نویو پېښو شمېر د پیغام له لارې راولېږي).

خنګه یې ولېږو:

۱. پیغامونه پړندل شوو شمېرو ته د ځایي تلیفوني شبکې یا د انټرنېټ له لارې استول کېږي:

الف. د پیغامونو د استولو لپاره د ځایي تلیفوني شبکې کارول – ځایي سیم کارټ او موډېم یا ګرځنده ټلیفون ته اړتیا لري ترڅو له کمپیوټر سره ونښلول شي او بیا له ځایي تلیفوني شبکې سره وصل شي. د دې ډول پیغامونو لپاره تر ټولو ډېر کارېدونکی سافټ ویر د فرانټ لاین اس ام اس- Frontline SMS (www.frontlinesms.com). دی.

ب. د پیغام د استولو لپاره د انټرنېټ کارول – انټېرنېټ ته اړتیا لري. د بېلګې په توګه کلیکاټېل (www.clickatell.co.uk)، بولک اس ام اس – BulkSMS (www.bulksms.com).

۲. پیغامونه په یوه جغرافیایي سیمه کې ټولو خلکو تو لېږل کېدای شي. دا کار د تلیفوني شمېرو ډیټابېس ته اړتیا نه لري مګر د تلیفوني خدماتو له ځایي وړاندې کوونکي سره هوکړې ته او دغه راز له عامې روغتیا وزارت سره مخکیني بحث ته اړتیا لري.

## راډیو

له راډیو څخه په بېلابېلو ډولونو کار اخیستل کېدای شي، د بېلګې په توګه:

| بڼه | ګټې | نیمګړتیاوې |
|---|---|---|
| **د خپلې راډیویي یا ټلویزیوني خپروني جوړول** | تاسو یوازې د نشر (خپرولو) د وخت لګښت ورکوئ. نو ارزانه دی.<br><br>د خپروني د منځپانګې اختیار ستاسو په لاس کې دی او کولای شئ د ټولنې غړي او ځایي کارکوونکي دې بهیر ته ور دننه کړئ او اجازه ورکړئ چې په دې بهیر کې خپل غږ اوچت کړي او د مالکیت احساس وکړي.<br><br>په دې میتود کې له خلکو سره مخکې ثبت شوې مرکې، د ځانګړو مسئلو په هکله له کارپوهانو سره مرکې لکه د روغتیا په اړه، او تلیفوني اړیکې له لارې دوه طرفه ارتباط هم شاملېږي. | تاسو باید ډېر کار په خپله وکړئ نو له دې امله تاسو باید وخت او سرچینې ولرئ.<br><br>معمولا د پلان جوړونې، تولید و اېډېټ لپاره روزنې ته اړتیا لري.<br><br>هغه کسان چې مرکه ورسره کېږي کېدای شي ځینې وختونه اصلي موضوع څخه واوړي او د هغه څه په اړه خبرې وکړي چې د پوښتل شوي پوښتنې اړوند نه وي. |

| | | |
|---|---|---|
| **د عامه خدماتو اعلان (د عامه پوهاوي وړيا اعلانونه)**<br><br>دا پيغامونه معمولا لنډ وي، له ۱۵ ثانيو څخه نيولې تر ۳ دقيقو پورې. | معلومات يې لنډ وي او ګرندي خپرېږي. دا بنه د ټولنې لپاره د روغتيايي زده کړې او عمومي معلوماتو لپاره کارول کېدای شي. دا بنه د خپرولو لپاره ډېر لږ وخت ته اړتيا لري او د نشراتو تر ټولو ارزانه لار ده. | خلکو ته تل کافي معلومات نه وړاندې کوي. |
| **هره ورځ پنځه دقيقې تازه خبرونه**<br><br>کارکوونکي خبرونه ليکي او ثبتوي يې ترڅو هر ماسپښين يا سهار خپاره شي. د خبر موضوعات کېدای شي د پروګرام اړوندې ښلابېلې مسئلې وي. کارکوونکي کولای شي د خلکو يا د پروګرام د کارکوونکو غږونه را واخلي او په خبر کې يې شامل کړي. | د روانو چارو او تازه خبرونو په اړه لنډ معلومات وړاندې کوي. که هره ورځ په منظم وخت خپاره شي، خلک ښايي د خپرېدو وخت معلوم کړي او دا خبرونه واوري. دا يوه ثابته او تر ټولو ډېر کارېدونکې بڼه ده. ستاسو ظرفيت، سرچينو او د نشراتو ظرفيت ته په پام په اوونيز ډول هم ترسره کېدای شي. | زيانونه يې کم دي، مګر منظمې ژمنې ته اړتيا لري، ګڼې له دوامداره ژمنې پرته به تاسو خپل مخاطبين له لاسه ورکړئ. |
| **ډرامې**<br><br>تيم پر يوه کيسه کار کوي چې د ټولنې او پروګرام اړوند موضوعات رانغاړي. د کيسې برخې کېدای شي له ۵ څخه تر 30 دقيقو پورې اوږدې وي. دا يو داسې ميتود دی چې ښلابېل کډون کوونکي په کې برخه اخيستلای شي. | د تفريح له لارې د ښلابېلو موضوعاتو په هکله د مخاطبينو د راښکېلولو او مشارکت لپاره کارول کېږي – لکه د روغتيايي مسئلو يا د ناورين د خطر د راکمولو لپاره.<br><br>امکان لري د ډرامې د جوړولو لپاره يو متخصص شرکت وګمارئ، مګر دا کار کارکوونکي او داوطلبان هم کولای شي. | د کيسې يا ډرامې برخو ته په پام دا يوه اوږده لړۍ ده. که چېرې ډرامه د ملي ټولنې له خوا جوړېږي نو د ډرامې د توليد مهارتونو ته اړتيا لري. |
| **ګرځنده نشرات** | له سټوډيو څخه بهر د نشراتو د وسيلې په لېږد سره خلکو ته د مشارکت زمينه برابروي مګر په داسې چاپېريال کې چې دوی ورسره آشنا وي. | زيانونه يې کم دي، مګر د سټوډيو د چاپېريال په پرتله ډېر د نه وړاندوينې وړ وي. |

## ګرځنده سينما

لنډ فلمونه په ښارونو او کمپونو کې د حفظ الصحې د ترويج اړوندو پيغامونو خپرولو او د موضوع په هکله د بحث رامنځته کولو لپاره کارول کېدای شي. په ورته وخت کې د پروګرام په هکله معلومات هم شريکېدای شي. په سينما کې لاندې شيان شامل دي:

- پر کلي باندې د کولرا ناروغۍ د اغېزې او پر وړاندې یې د خلکو د مقابلې د څرنګوالي په اړه یو لنډ متحرک (انیمېشن) فلم
- د حفظ الصحې د ترویج په اړه ننداري یا نمایشونه (لکه د لاسونو مینځل او د مالګې او شکر ترکیبي شربت (ORS) جوړول)
- د دې ډول فلمونو د بېلګلو د لیدلو لپاره دې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.iheedcrowd.org

## ټولنیزې رسنۍ

ټولنیزې رسنۍ د دوه اړخیزې مفاهمې لپاره تر ټولو اغېزمنه او بېړنۍ لار ده چې له ناورین یا کړکېچ مخکې، د ناورین په جریان کې یا له ناورین یا کړکېچ وروسته او دغه راز په عادي حالتونو کې ډېرې اړینې دي. د فېسبوک او ټویټر په څېر ابزار له ناورین سره د مخامخ کېدونکو سیمو کې خلکو ته د مخکینۍ خبرداري د پیغامونو د شریکولو یا له ناورین څخه وروسته د مرستې ترلاسه کولو د ځایونو په اړه د معلوماتو د شریکولو لپاره کارول کېدای شي. په عادي یا نابېړنیو حالتونو کې دا ابزار د نظرونو او تبصرو د راټولولو، د ټولنې د اقدام د هڅولو او دغه راز د روغتیایي او ټولنیزو مسئلو په اړه د خلکو د انګېرنو د درک کولو لپاره کارېږي.

مګر د ټولنیزو رسنیو چاپېریال ته ننوتل خپل خطرونه او ننګونې لري. د سره صلیب د ملي ټولنې د کارکوونکو او داوطلبانو لپاره د سره صلیب د نړیوال فدراسیون د ټولنیزو رسنیو د کارونې لارښود، د لارښود اساسي سند دی چې د ټولنیزو رسنیو د کارولو لپاره لارښوونې په ګوته کوي.

د ټولنیزو رسنیو له لارې له ټولنو سره د اړیکو نیولو لپاره غوره کړنې په لاندې ډول دي:

- د سیستم د اداره کولو لپاره د ټولنیزو رسنیو مسئول کارکوونکي یا داوطلبان وټاکئ.
- د پر لیکه خلکو خبرو او مهمو موضوعاتو ته پام وکړئ او دا چې دوی د ملي ټولنو (NS) او د سره صلیب-سرې میاشتې (RCRC) په اړه څه وایي.
- معلومات په هغو وختونو کې پوسټ کړئ چې خلک یې وکتلای شي
- مستقیمو پوښتنو او تبصرو ته د ۲۴ ساعتونو د ننه ځواب ورکړئ – یوازې ساده منځه دا څرګندوي چې تاسو هر څه اورئ او که چېرې تاسو د کومې پوښتنې لپاره ځواب نه لرئ، نو پوښتونکي کس ته ووایئ چې تاسو به یې وروسته ځواب ورکړئ (او بیا یې هرومرو ځواب ورکړئ).
- اړینه نه ده چې هر عمومي نظر ته ځواب ورکړئ، نو فکر وکړئ او پرېکړه وکړئ چې آیا ځواب ځواب ویل اړین دي که نه او ځواب ویل به ګټور وي.
- ځواب مو باید روښانه، مناسب او دقیق وي – که چېرې ځواب نه وي درسره، له نورو ځانګو څخه مرسته وغواړئ.
- ځینې وختونه شایي څرګندونې او تبصرې لمسوونکي او پاروونکي وي. په داسې حالت کې په آنلاین بحث کې له ګډون ډډه وکړئ او پرېکړه وکړئ چې آیا ځواب نه ورکول غوره دي که نه. مګر نیوکو ته ځواب ویل او د ناسمو خبرو اصلاح کول غوره کړنه ده.

- د تبصرو (کمنټونو) لپاره پالیسي چمتو او خپره کړئ ترڅو وکولای شئ ناوره، کواښونکي، سپکوونکي او توکیو او خدماتو د پېر او پلور اړوندې تبصرې لرې کړئ.
- په بېړنیو حالتونو کې ښایي ډېرې تبصرې ترلاسه کړئ چې ښایي ځواب ور نه شئ کړای – په دې حالت کې تبصرې فلټر (تصفیه) کړئ او مهم موضوعات چې خلک یې په اړه معلوماتو ته اړتیا لري، بېل کړئ او په اړه یې معلومات ورکړئ.
- د دې لپاره چې عامو پوښتنو او تبصرو ته په آسانۍ او چټکۍ ځواب ورکړئ، د ځواب ویلو (غبرګون) معیاري سند چمتو کړئ.

## لاسپیکرونه/پر لاسپیکر سمبال نقلیه وسایط

د لاسپیکر لرونکو نقلیه وسایطو یا لاسپیکرونو کارول د هغو کې نفوسه ډلو په نښه کولو لپاره غوره لاره ده چې په لوبو کلیو، ښاري سیمو یا کمپونو کې اوسېږي، په دې توګه پیغام د ټولنې زړه ته او نالوستو خلکو ته په ځايي ژبه رسېږي. لاسپیکرونه ښایي ځای پر ځای چېرته نصب وي (لکه په مارکېټ، کمپ یا جومات کې) یا ګرځنده وي (لکه لاسي مېګافون یا لاسپیکر لرونکي نقلیه وسایط). دا کار ډېر آسانه دی او پر نقلیه واسطه یوازې د لاسپیکر یا د غږیز (PA) سیستم نصبول غواړي.

لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

- د ډېرو خلکو د پاملرنې راجلبولو لپاره پیغامونه له موزیک سره یوځای کړئ.
- که چېرې پر لاسپیکر سمباله نقلیه واسطه کاروئ، داسې ځای ته لاړ شئ چېرې چې ډېر فعالیتونه ترسره کېږي، د بېلګې په توګه د خوړو د خوندیتوب (مصونیت) پیغامونه په هغه ځای کې خپرېدای شي چېرې چې خلک د خوړو د وېش یا د مرستې لپاره نوم لیکنه کوي.
- د روغتیا یا ناورین لپاره د چمتووالي د پیغامونو د خپرولو لپاره ځايي مسخره یا ټوکماران او لوبغاړي وګمارئ.
- د ماشومانو لپاره د سندرو ویلو/نڅا کولو/تمثیل کولو سیالۍ او صابون/تشناب کاغذ د جایزې په توګه ورکړئ.

## تیاتر او ډرامه

د پیغامونو د خپرولو لپاره د نوښتګرو میتودونو کارول د پیغامونو په جذب کې مرسته کوي او اغېزمن شوو وګړو ته تفریح او ساتېرې برابروي.

لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

- د تیاتر/ډرامې خورا نامتو ځايي بڼه څه ده؟
- دا تیاتر/ډرامه څرنګه په پروګرام یا بېړني پیغام رسولو کې مدغم کېدای شي؟
- د لاسپیکر، پر لاسپیکر سمبالو نقلیه وسایطو او راډیو په کارولو سره یې مدغم کړئ (پورته برخه وګورئ).

## پوسټرونه، خبرتیا پاڼې او بېلبورډونه

د عمومي قاعدې په توګه، بېلبورډونه د ډېر شمېر خلکو سره د ساده معلوماتو د شریکولو لپاره غوره میتود دی. پوسټرونه له ټاکل شوې/غوره شوې ټولنې سره د پروګرام د معلوماتو د شریکولو لپاره غوره دی. خبرتیا پاڼې د پروګرام د فعالیت د برخې په توګه ښه پایله ورکوي – د بېلګې په توګه، تاسو ښایي د کولرا په اړه معلومات د تیاتر د ننداري وروسته خپاره کړئ ترڅو خلک دا معلومات خپلو کورونو ته ورسوي، له نورو سره یې شریک کړي او د مرجع لپاره یې وساتي.

## له سوداګریزو رسنیو سره د خبرو اترو په اړه یادونښت

ځینې سوداګریزې رسنۍ ښايي وړیا خدمات وړاندې کړي – خور نور داسې نه کوي. مګر تاسو باید تل هڅه وکړئ چې سوداګریزو رسنیو ته د دې خبرو په کولو چې څه چې تاسو کوئ د ټولو په ګټه دي او د ګټې ترلاسه کولو لپاره دا کار نه کوئ، د وړیا یا په کم لګښت د رسنیزو خدماتو ترلاسه کولو لپاره خبرې اترې وکړئ. غوره به دا وي چې لومړی لږ څېړنه وکړئ ترڅو له سوداګریزو رسنیو سره د خبرو اترو تر پیل مخکې د مناسبې بيې په اړه پوه شئ.

په هایټي هېواد کې د ۲۰۱۰ کال له  زلزلې وروسته، ځایي راډیوګانو د مرستندونه فعالیتونو د ملاتړ لپاره ځانګړو شوو مالي مرستو ته په پام د نشراتو په بدل کې له عادي نرخ څخه ډېرې پیسې واخیستې. د یو ساعت نشراتو په بدل کې یې ۱۲۵۰ امریکایي ډالر واخیستل. په سیرا لیون کې قضیه برعکس وه، کله چې ملي ټولنې له ملي نشر کوونکو سره په دې خبرې وکړې چې راډیويي خپرونې د خلکو په ګټه دي، نو د یوه ساعت نشراتو لګښت ۵۰ امریکایي ډالرو ته را ټیټ شو.